# د پیرودونکو د مرستې او ارجاع د ارزونې خدمات

## (Customer Assistance, Referral & Evaluation Services, CARES)

د پیرودونکو د مرستې، مراجعې او ارزونې خدم

## PGW CARES

PGW د اړتیا په وخت کې له تاسو سره مرسته کوي. د هغو پروګرامونو او خدماتو په هکله پوهاوی ترلاسه کړئ چې کولای شي نن له تاسو سره مرسته وکړي.

وخت او بشپړ ډول تادیه شوی وي. د پروګرام ګډونوال همدارنګه همدارنګه بښایي د عایق کاری وړیا خدمات ترلاسه کړي ترڅو د کولای شي خپل د کور د انرژۍ اغېزمنتیا لوړه کړي.

د کورنۍ د هر غړي لپاره د عاید د تثبیت اسناد را ټول کړئ (د بېګلې په توګه، د تېرو 30 ورځو د تادیې رسید، د ټولنیز خوندیتوب لیک) او د www.pgworks.com/crp له لارې په آنلاین ډول خپله غوښتنه وړاندې کړئ. تاسو همدارنګه کولای شئ د لیک له لارې خپل غوښتنه وړاندې کړئ.

که د کورنۍ کوم غړي په تېرو 30 ورځو کې هېڅ ډول عاید، مالي ملاتړ، د ماشوم ملاتړ یا د نغدو پیسو مرسته نه وي ترلاسه کړې، تاسو باید د عاید نلرلو فورم ډک کړئ. په فورم کې یو ځای شتون لري چې تاسو تشریح کوئ چې ستاسو کورنۍ څنګه هره میاشت د خوړو، هستوګنې او ښاري خدماتو لګښتونه پوره کوي. د ډېرو معلوماتو لپاره 215-235-1000 ته زنګ ووهئ.



### د پیرودونکو د مسوولیت پروګرام (Customer Responsibility Program, CRP)

د پیرودونکو د مسوولیت پروګرام (CRP) له ټیټ عاید لرونکو کورنیو سره مرسته کوي چې خپل د ګاز بېلونه تادیه او د ثابت او ارزانه میاشتنې لګښت په ورکولو سره له خدماتو څخه دوامداره ګټه واخلي. له وخته مخکې د ګاز د بېل په اړه پوهاوی له کورنیو سره مرسته کوي چې د کورنۍ د لګښتونو لپاره پانګه چمتو کړي.

پر تخفیف لرونکې میاشتنې بېل سربېره، CRP د هرې هغې میاشتې لپاره د پور د بښلو خدمات وړاندې کوي چې بېل یې په

له مالیې مخکې د حد اقل میاشتنې عاید لاربنود

| UESF | LIHEAP او کړکېچ | CRP | د کورنۍ کچه |
|---|---|---|---|
| $1,861 | $1,595 | $1,610 | 1 |
| $2,514 | $2,155 | $2,178 | 2 |
| $3,168 | $2,715 | $2,745 | 3 |
| $3,821 | $3,275 | $3,313 | 4 |
| $653 | $560 | $568 | هر ډېروالی |

## د ټيټ عايد لرونکو خلکو لپاره د کور د انرژۍ د مرستې پروګرام (Low Income Home Energy Assistance Program, LIHEAP) نغدو پيسو او د کړکېچ مرستې

د ټيټ عايد کور د انرژۍ مرستې پروګرام (LIHEAP) يو فدرالي پروګرام دی چې د ټيټ عايد لرونکو کورنيو لپاره نغدي او د کړکېچ مرستې چمتو کوي. د مرستې اندازه د کورنۍ د غړو او عايد په اساس دی، او هېڅکله بايد بيا تاديه نشي. نغدي مرسته د $1000 په ارزښت ده چې د تودوخې بېل تر پوښښ لاندې نيسي.

که چېرته پېرودونکي خپل پخوانی پوری نه وي ادا کړی، د کړکېچ مرسته د خدماتو له لغوه کېدو څخه مخنيوی کوي، او که د ګاز خدمت بند شوی وي هغه بيا پيلوي. LIHEAP معمولاً د نومبر او اپرېل تر منځ پرانيستی وي، مګر ځانګړې مرستې ځينې وخت د کال په اوږدو کې ترسره کېږي. LIHEAP ته په آنلاين توګه د www.compass.state.pa.us له لارې نوم ليکنه وکړئ يا يا غوښتنپاڼه ډکه کړئ. د لا زياتو معلوماتو لپاره 215-235-1000 ته زنګ ووهئ.

## د ښاري خدماتو د بېړني خدمت مرسته (Utility Emergency Services Fund, UESF)

د ښاري خدماتو د بېړني خدمت مرسته (UESF) د شخصي تمويل د مرستې پروګرام دی چې د کم عايد لرونکو کورنيو سره چې نشي کولای خپل د ګاز بېل تاديه کړي مرسته کوي. د غوښتنې لپاره، پېرودونکی بايد a) لرتر لره يو بېل باقي پاتې وي او حد اقل نا ادا شوی بيلانس يې $30 وي؛ يا b) د لغوه کېدو خبرتيا يې ترلاسه کړې وي. UESF مرستې د دې له پاره په پام کې نيول شوې دي چې د پېرودونکي د ښاري خدماتو نا ادا شوی لګښت ادا کړي او بيلانس يې صفر ته راکم کړي. د ښاري خدماتو د مرستې پر چمتو کولو سربېره، UESF بېلابېل نور پروګرامونه تر لاس لاندې لري چې د هستوګنې پر ثبات باندې متمرکز دي – د ډېرو معلوماتو لپاره www.uesfacts.org ته مراجعه وکړئ. د UESF مرستو د غوښتنې لپاره، له Neighborhood Energy Center سره په اړيکه کې شئ. د ډېرو معلوماتو لپاره 215-972-5170 ته زنګ ووهئ.



## Easy Way Budget

هغه پېرودونکي چې په خپل PGW حساب کې پيسې نه لري، کولای شي په Easy Way Budget کې نوم ليکنه وکړي. د نوم ليکنې پر مهال PGW ستاسو د ګاز کلنی لګښت اټکلوي او ټوله اندازه يې پر 12 مياشتو باندې وېشي. دا کار د کال په اوږدو کې تاديه آسانه کوي او له کورنيو سره مرسته کوي چې هره مياشت د خپلې تودوخې د لګښت لپاره څومره بوديجه په پام کې ونيسي. د نوم ليکنې لپاره 1000-235 -215 ته زنګ ووهئ.

## د تاديې لپاره چمتووالی

هغه پېرودونکي چې په خپل PGW حساب کې پيسې لري ښايي د تاديې د تدابيرو لپاره مستحق وي تر څو په ځانګړې موده کې نا ادا شوي پوروونه ادا کړي. د چمتووالي موخه دا ده چې د پېرودونکو لپاره داسې لاره برابره شي چې د ګاز خدماتو ته دوام ورکړي او يا يې بيا پيل کړي او په ورته وخت کې د پوروونو پر ادا کولو کار وکړي. د ډېرو معلوماتو لپاره 215-235-1000 ته زنګ ووهئ.

## EnergySense

EnergySense ستاسو لپاره تخفيف او مرستې چمتو کوي تر څو د خپل کور لپاره د انرژۍ باکيفيته داشونه او د اوبو ګرموونکي وسيلې وپېرئ. په www.pgwenergysense.com کې غوښتنه وکړئ. د ډېرو معلوماتو لپاره 855-749-7658 ته زنګ ووهئ.